لیکوال : احسان الله « خلاند »



د نشر نیټه : ۱۸ اګست ۲۰۱۲ م


# محمود « خزان »




محمود « خزان» د ملا دین محمد زوی د لغمان ولایت مرکز د نوري په کلي کی په ۱۳۵۳المریزکال کې دې نړی ته سترګې غړولي .زده کړه یې تر لیسې دورې پورې کړې د ځینو اقتصادي ستونزو له کبله یې ونشوکولای چې لوړې زده کړې هم وکړي.خو اوس اراده لري چې د لوړو زده کړو خاوند شي.که زده کړې یې لوړې ندي خو لوی ذات ورته په ادبي برخه پوره لوړ استعداد ورکړی دی.

همدا لامل دی چې د ختیځ ادبي بهیر د مرستیال دنده پرغاړه لري.محمود خزان لکه د تخلص نه یې چې معلومیږي تر ډېره ورته ربښتیا هم ستونزو او مشکلاتو غاړه ورکړې،خو د پښتو مینې او خدمت ته یې په هر حالات کې اوږه ورکړې.ډېرو مشاعرو او غونډو کې یې ګډون کړی.

همد لامل دی چې د یو فعال فرهنګي په توګه پیژندل کیږي.په هر صورت که زه د خزان هر څومره ستاینه وکړم بیا هم کمه ده.خزان شاوخوا له پنځلس،شپاړس کلونو راپدېخوا په د پښتو ادب ته مخه کړې.خزان له هغه وخته چې شاعري پیل کړې نو ډیری مهلي سندرغاړو یې غزلې،لوبې،داستانونه او داسې نورو په خپلو غږونو کې خلکو ته وړاندې کړي.

له څو کلونو راهیسي په جلالکوټ ادبي خوځښت په غونډو کې د یو فعال غړي په صفت برخه اخلي.ډیری وخت ادبي درسونه،ذهني ازمایښت په غاړه لري.د خوځښت په راتګ سره یې د شعرونو ښکلا او هنریت ترمخکې زیات شوی.
محمود خزان تر اوسه د وګوره اشنا په نوم یوه شعري ټولګه لري.او په نږدې وخت کې به یې دوهمه ټولګه هم له چاپ شي. وګوره اشنا په ۱۱۳مخونو کې چاپ شوې،چې ډیری برخه یې غزلونو او لوبو ته ځانګړې شوې.د خپل هیواد کلي انځور داسې را اخلي.

جوړ دی ویر ماتم زمونږ په کلي کې
هر طرف ته غم زموږ په کلي کې
نه هغه ګودر او نه میلې شته دی
نه ستار چیلم په کلي کې

خزان که په پورته بیتونو کې د تولنې ستونزې ذکر کړي،خوبیا د خپل ځان یادونه خپل جانان ته داسې کوي.

که په ما باندې ستا غم دی خیر دی وي دې
که مې زړه قلم، قلم دی خیر دی وي دې
یاره ته چې یې خوشحاله زه پرې خوښ یم
که په ما باندې ماتم دی خیر دی وي دې

او یا داچې:

تا خو مې د زړه خونه ویجاړه کړه
وران ویجاړ کنډور کې نور څه غواړې

وایي چې په یوه ټولنه کې ځوانان د ملا د تیر حیثت لري.د ځوانانو مغز،انرژي او توان تر نورو ځواکمن وي.خو دغه ځواکمنتیا هغه وخت په سمه مصرفیږي چې نظام ښه وي او د ګمراهانو له منګلو لرې وي. ځوانانو ته نیکه او سالمه مشوره ورکول ممکن ځوانان له ډېرو بدو لارو وژغوري.محمود خزان ځوانانو باندې داسې غږ او ستاینه یې کوي.

زلمیانو ورکړئ د وحدت لاسونه
سم د اخلاص او صداقت لاسونه
محمود خزانه ملت څوک جوړوي
همدا زلمیان دي د ملت لاسونه

زه یو ځل بیا هم یادونه کوم چې که زه هر څومره د خزان په شعرونو د قلم څوکه وګرځوم خو بیا هم دا زما له وس پوره نه ده،خپله لیکنه د خزان صیب په یوه غزل راټولوم چې وایي.

پیدا به نکړي بل داسي مُرید غوندي سړی
چي ژوند قربانوي درنه شهید غوندي سړی

زما لکه حُسین معصوم ارمان پرېږ څله وژني
په خوا کي یاره مه ساته یزېد غوندي سړی

بیلتونه ځوانیمرګه دادي څه کاني پرې وکړې
روان دی میکدې ته د سعید غوندي سړی

د وخت د بې ایمانه وحشتګر لښکر د پاره
پکار دی د خالد بن ولید غوندي سړی

دا ښکلي د ستایلو وي که نه خلک یې ستایي
یو څه باید پرې وکوي تنقید غوندي سړی

په ځینو ځینو رب څومره ښکلا وي لورولي
خزانه په کتو یې شي تردید غوندي سړی

******

احسان الله « خلاند »

بازگشت به صفحه اصلی

www.said-afghani.org

هره لیکنه د لیکوال خپل نظر دی او خپله دلیکوال اند څرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارگان نشراتی صلح و تفاهم سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است